د سلام نړیوال علمي ژورنال
Salam International Academic Journal
*Journal Homepage:* https://journal.salam.edu.af
لسم کال، شمیره ۱۷، پسرلی، کال ۱۴۰۴هـ ش

# د ځوانانو د مهاجرت په مخنیوي کې د آزاد کار رول او اغېز

# The Role and Impact of Freelancing in Preventing Youth Migration

پوهندوی بادام نیازی[1]، پوهنمل محمد اکبر شاهپور[2]

DOI: 10.64104/v10.Issue.17.n3.2025

ISSN: 3078-9583 (Online)    ISSN: 3078-9575 (Print)
تاریخ نشر: ۱۴۰۴/۰۵/۰۸    تعداد صفحات: ۱۴    از صفحه ۳۹ تا ۵۲

## لنډیز

دا څېړنه د ځوانانو د کډوالۍ د مخنیوي لپاره د فریلانسنګ د رول او اغېزو ارزونه کوي، چې څنګه کولی شي د ځوانانو د کډوالۍ مخه ونیسو، په ځانګړي ډول په هغو سیمو کې چې کار موندنه پکې کمه ده او د بې‌کارۍ له امله ځوانان مهاجرت ته اړ کېږي. د څېړنې موخه دا ده چې وښيي فریلانسنګ څنګه د ځوانانو لپاره د عاید لاسته راوړلو، مهارتونو د پراخېدو، ټولنیز ملاتړ او اقتصادي ثبات سبب ګرځي.

په دې څېړنه کې کیفي میتود کارول شوی، او معلومات له مختلفو سرچینو لکه کتابونو، راپورونو، مرکو او نړیوالو تجربو څخه راټول شوي دي. د څېړنې لپاره د افغانستان، بنګله‌دېش، فلپین او کینیا فریلانسنګ تجربې مطالعه شوي دي.

د څېړنې پایلې ښيي چې فریلانسنګ یو انعطاف‌پذیر او دوامدار عایداتي فرصت دی، چې ځوانان پرې له خپلو کورونو نړیوالو بازارونو ته کار کولی شي. دا کار د هغوی اقتصادي حالت ښه کوي او ټولنیز ثبات ته وده ورکوي. په افغانستان کې د ۲۰۲۳ کال فریلانسنګ پروګرامونو ښودلې چې زرګونه ځوانان یې د بېکارۍ له خطره ژغورلي او د هغوی ژوند یې مثبت بدل کړی دی.

څېړنه وړاندیز کوي چې د فریلانسنګ د ودې لپاره باید د مسلکي زده کړو پروګرامونه پراخ شي، انکوبېټرونه جوړ شي، د انټرنېټ او وسایلو اسانتیاوې زیاتې شي، او امارتي او خصوصي اداري باید په ګډه کار وکړي. دا ټول اقدامات کولی شي د فریلانسنګ له لارې د ځوانانو د کډوالۍ ستونزه کمه کړي او د ټولنې اقتصادي پرمختګ ته لاره هواره کړي.

**کلیدي کلیمې: ځوانان، کډوالي، فریلانسنګ، اقتصادي فرصتونه، ټولنیز ملاتړ، اقتصادي ثبات.**

---

[1]. ننګرهار پوهنتون کمپیوټر ساینس پوهنځی، د معلوماتي سیستمونو څانګه، badam@nu.edu.af
[2]. کندوز پوهنتون کمپیوټر ساینس پوهنځی، سافټویر انجنیری څانګه، akbarshshpoor@gmail.com

استفاده از مقالات مجله با ذکر نام و مصدر مجاز می باشد
The use of the journal's articles is permitted provided that the author's name and the source are properly cited.

## سريزه

کډوالي د نړيوالې ټولنې له جدي ستونزو څخه ده، چې په ځانګړې ډول د پرمختيايي هېوادونو ځوانان پرې ژوره اغېزه لري. د کليوالو سيمو د کاري فرصتونو کمښت، بېکاري، او ټولنيزه بې‌وزلي هغه عوامل دي چې ځوانان د ښاري سيمو يا نورو هېوادونو ته کډوالۍ ته اړ باسي. د نړيوال بانک د راپور له مخې، شاوخوا ۱۸۴ ميليونه کسان، چې د نړۍ د نفوس ۲،۳ سلنه جوړوي، له خپل اصلي هېواد څخه بهر ژوند کوي، چې ډېری يې د اقتصادي ستونزو له امله کډوال شوي دي *(World Bank, 2023)*. په افغانستان کې، چې د ځوانانو نفوس د ټول نفوس لويه برخه جوړوي، د کډوالۍ ستونزه نه يوازې د ځوانانو ژوند اغېزمنوي، بلکې د ټولنې اقتصادي پرمختګ ته هم زيان رسوي.

د دې ستونزې د حل لپاره، د فريلانسنګ مفکوره د بديلو فرصتونو په رامنځته کولو سره ځوانانو ته يوه هيله‌بښونکې لاره وړاندې کوي. فريلانسنګ يو نوښتګر فرصت دی چې ځوانانو ته اجازه ورکوي له خپل کور څخه، پرته له دې چې د کوم دفتر يا اداري سره دايمي تړاو ولري، د انټرنېټ له لارې نړيوالو بازارونو ته خپلې خدمتونه وړاندې کړي. دا طريقه ځوانانو ته دا توان ورکوي چې د ژباړې، ډيزاين، ليکنې، پروګرامنګ، بازار موندنې او نورو تخنيکي يا هنري کارونو په برخه کې عايد ترلاسه کړي. څېړنې ښيي چې آنلاين فريلانسنګ د کار د نوي ډول په توګه، د ځوانانو لپاره د بديلو فرصتونو د رامنځته کولو په برخه کې مهم رول لوبوي *(Kässi & Lehdonvirta, 2018)*.

د اسلامي شريعت له نظره، فريلانسنګ هغه وخت روا ګڼل کېږي چې د خدماتو د وړاندې کولو شرايط روښانه او د اسلامي اصولو سره سمون ولري. د "اجارې" اصول، چې د خدماتو د وړاندې کولو او د عايد د ترلاسه کولو په اړه دي، د فريلانسنګ لپاره شرعي بنسټ ګڼل کېږي. که وړاندې کېدونکي خدمات حلال وي، عايد د اسلامي شريعت له مخې وي، او د فريلانسنګ تړون واضح او مشخص وي، نو فريلانسنګ د اسلامي اصولو له مخې روا دی. همداراز، خدمات بايد له هر ډول غيرقانوني يا غيرشرعي کارونو پاک وي *(Jamia Binoria, n.d.; Dawat-e-Islami, n.d.)*.

د اسلامي فقهي اصولو په نظر کې، فريلانسنګ د "اجير مشترک" يا "مشترک اجير" د اجارې تړون يوه بڼه ده چې فريلانسر په کې ټاکل شوی خدمات وړاندې کوي او په بدل کې ټاکلې اجرت ترلاسه کوي. دا ډول تړونونه د اسلامي شريعت له مخې روا دي، خو شرط يې دا دی چې خدمات حلال وي، اجرت مشروع وي او له سود څخه پاک وي، او د کار موده، د کار ډول، او اجرت په واضح ډول مشخص وي *(About Islam, n.d.; Jamia Binoria, n.d.)*.

د اسلامي مراجعو لکه جامعه بنوريه، دعوتِ اسلامی، او *About Islam* ويب‌پاڼې هم دا نظر تاييدوي چې فريلانسنګ د اسلامي شريعت له مخې په هغه صورت کې روا دی چې پورته ذکر شوي اصول په کې رعايت شوي وي. مهمه ده چې فريلانسر له حرامو کارونو لکه فحشا خپرولو، قمار، او نورو غيرشرعي فعاليتونو ډډه وکړي *(Dawat-e-Islami, n.d.; About Islam, n.d.)*.

د نړيوالو بازارونو د اړتياوو سره د ځوانانو د مهارتونو تطابق د فريلانسنګ د برياليتوب يوه اساسي برخه ګڼل کېږي. د نړيوال اقتصادي فورم *(World Economic Forum)* د ۲۰۲۲ کال راپور څرګندوي چې نړيوال کاري بازارونه د ډيجيټل مهارتونو پراختيا ته زياتې اړتياوې لري، چې د فريلانسرانو لپاره د دوامدارو فرصتونو دروازې پرانيزي *(WEF, 2022)*. د دې وړتيا له لارې ځوانان کولی شي په نړيوالو پروژو کې برخه واخلي، د نړيوالو معيارونو پر بنسټ خپل خدمات وړاندې کړي، او د عايداتو د لوړوالي له لارې د کډوالۍ اړتيا په پام وړ ډول راکمه کړي.

په افغانستان کې، د فریلانسنګ پروګرامونه د ځوانانو د اقتصادي او ټولنیز بدلون یوه نوې لاره پرانیستې ده. د افغانستان د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د راپور له مخې، د ۲۰۲۳ کال د فریلانسنګ پروګرامونه په درې مرحلو کې پلي شوي دي. د دې پروګرامونو له لارې زرګونو ځوانانو ته د مهارتونو زده کړه او نړیوالو بازارونو ته لاسرسی برابر شوی دی. د بلخ په څېر ولایتونو کې د امتحاني پروژو په ترڅ کې، ځوانانو د ورځني عاید په توګه له 5$ څخه تر 15$ ډالرو پورې ګټه ترلاسه کړې، چې دا د هغوی اقتصادي وضعیت د پام وړ ښه کولو لامل شوی دی. د دې پروګرامونو پراختیا اوس مهال په نورو زونونو کې روانه ده، چې هدف یې د ځوانانو لپاره د دوامدارو اقتصادي فرصتونو رامنځته کول دي.

د نورو هېوادونو تجربې، لکه د بنګله‌دېش د "فریلانسنګ انکوبېټر" پروګرام، د فلپین د *"Outsourcing Filipino Talent"* نوښت، او د کینیا او نایجیریا ورته پروژې ښیي چې فریلانسنګ د ځوانانو د اقتصادي ستونزو د حل لپاره یوه اغېزمنه او پایښت لرونکې لاره ده *(UNDP, 2020)* . په بنګله‌دېش کې، د فریلانسنګ انکوبېټرونه ځوانانو ته د انټرنیټ، ډیجیټل وسایلو، او ځانګړو مهارتونو د برابرولو له لارې د پام وړ اقتصادي پایلې رامنځته کړې دي. ګډونوالو په خپلو عایداتو کې د پام وړ زیاتوالی تجربه کړی، چې د هغوی لپاره د ځان‌بسیاینې او اقتصادي پرمختګ یوه نوې دروازه پرانیستې ده.

په افغانستان کې، چې د بېکارۍ لوړه کچه او د اقتصادي فرصتونو محدودتیا لري، فریلانسنګ د ځوانانو لپاره یوازې د عایداتو د لوړولو وسیله نه ده، بلکې هغوی ته د ځان‌بسیاینې، د مهارتونو پراختیا، او د نړیوالو بازارونو سره د اړیکو ټینګښت لپاره فرصتونه برابروي. د دې پروګرامونو پایلې ښیي چې ځوانانو په خپلو کلیوالو سیمو کې پاتې کېدل غوره کړي، په داسې حال کې چې د نړیوالو پروژو له لارې عاید ترلاسه کوي. دا پروګرامونه نه یوازې د کډوالۍ د اړتیا کمولو کې مرسته کوي، بلکې د ټولنیز او اقتصادي ثبات د رامنځته کېدو لپاره هم یوه مهمه لاره ده.

په دې څېړنه کې د فریلانسنګ د مفکورې اغېزې څېړل شوې دي، چې څنګه دا مفکوره د ځوانانو لپاره د کاري فرصتونو په رامنځته کولو او د کډوالۍ په کموالي کې مرسته کوي. څېړنه د اقتصادي، تعلیمي، او ټولنیزو اړخونو په رڼا کې تحلیل لري او د ځوانانو د کډوالۍ د مخنیوي لپاره نوې حللارې وړاندې کوي. د افغانستان او نورو هېوادونو تجربې په ډاګه کوي چې فریلانسنګ د ځوانانو د اقتصادي ودې او ټولنیز پرمختګ لپاره یو اغېزمن او پایښت لرونکی ماډل دی.

### د څېړنې اهمیت

کډوالي نه یوازې د ځوانانو د ژوند کیفیت اغېزمنوي، بلکې د ټولنې په اقتصادي پرمختګ او ټولنیزو جوړښتونو هم ژورې منفي اغېزې لري. د نړیوال بانک د ۲۰۲۳ کال راپور په ډاګه کوي چې د کډوالۍ له امله په ټیټ او منځني عاید لرونکو هېوادونو کې د بشري وړتیاوو کمښت د اقتصادي ودې لپاره لوی خنډ دی *(World Bank, 2023).* په ځانګړې توګه په افغانستان کې، کډوالي د ځوان نسل لپاره یوه جدي ننګونه بلل کېږي، ځکه چې ډېری ځوانان د اقتصادي فرصتونو د نشتوالي له امله اړ کېږي چې خپلې اصلي سیمې پرېږدي.

د افغانستان د فریلانسنګ پروګرامونه د دې ستونزې لپاره یوه نوې او نوښتګره حللاره وړاندې کوي. دا پروګرامونه ځوانانو ته د نړیوالو کاري بازارونو سره د نښلولو فرصت برابروي، چې له لارې یې دوی کولی شي پرته له دې چې خپلې سیمې پرېږدي، پایښت لرونکي عاید ترلاسه کړي. د دې پروګرامونو هدف د ځوانانو اقتصادي ځواکمنتیا ده، ترڅو هغوی په خپلو سیمه‌ییزو ټولنو کې پاتې شي او د ټولنیز او اقتصادي پرمختګ برخه وګرځي.

د دې څېړنې ارزښت په دې کې دی چې د فریلانسنګ په څېر نوښتګرې لارې چارې تحلیلوي. دا نوښت د ځوانانو لپاره د کاري فرصتونو د رامنځته کولو له لارې د دودیزې کډوالۍ اړتیا په پام وړ ډول کموي. سربېره پر دې، دا نه یوازې د ځوانانو اقتصادي ثبات ته وده ورکوي، بلکې د ټولنې ټولنیز جوړښتونه هم پیاوړي کوي، ځکه چې ځوانان په خپلو ټولنو کې پاتې کېږي او د ټولنیز بدلون برخه جوړېږي. د افغانستان بریالۍ تجربه د دې ماډل نړیوال اغېزمنتیا لپاره یوه غوره بېلګه وړاندې کوي.

### د څېړنې موخه

1. د ځوانانو د کډوالۍ اساسي عوامل روښانه کول، په ځانګړې توګه اقتصادي، ټولنیزې، او تعلیمي ستونزې.
2. د فریلانسنګ د مفکورې رول د ځوانانو د کډوالۍ په مخنیوي کې ارزول او د دې پروګرامونو د اغېزمنتیا تحلیل.
3. د ځوانانو لپاره د اقتصادي او تعلیمي فرصتونو رامنځته کول او د نړیوالو بازارونو سره د هغوی د نښلولو اغېز تشریح کول.
4. د فریلانسنګ پروګرامونو د پایښت او عملي تطبیق لپاره د اړتیا وړ زیربناوو او مهارتونو اهمیت ارزول.

### څېړنیزې پوښتنې

1. د ځوانانو د کډوالۍ تر ټولو مهم عوامل کوم دي؟
2. څنګه کولی شو د فریلانسنګ له لارې ځوانانو ته اقتصادي فرصتونه برابر کړو؟
3. د اقتصادي او تعلیمي فرصتونو پراختیا څنګه کولی شي د کډوالۍ مخنیوی وکړي؟

### مواد او کړنلاره

دا څېړنه د کیفي څېړنې میتودونه کاروي، ترڅو د ځوانانو د کډوالۍ ستونزې په ژوره توګه وڅېړل شي او د فریلانسنګ پروګرامونو اغېزمنتیا وارزول شي. د معلوماتو د راټولولو لپاره له علمي سرچینو، نړیوالو راپورونو، او د ځوانانو د ژوند په اړه تر سره شوو څېړنو څخه ګټه اخیستل شوې ده. د دې څېړنې لپاره لاندې ځانګړې ګامونه اخیستل شوي دي:

۱. د ادبیاتو تحلیل

په دې څېړنه کې د ادبیاتو تحلیل په لاندې برخو ولاړ دی:

- **د نړیوال بانک د ۲۰۲۳ کال راپور**: د کډوالۍ اقتصادي او ټولنیزو اغېزو په اړه دقیق معلومات وړاندې کوي.
- **د افغانستان د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت راپور) ۲۰۲۴(:** د افغانستان د فریلانسنګ پروګرامونو په اړه تفصیلي معلومات وړاندې کوي. په دې راپور کې د پروګرامونو تطبیق، د ګډونوالو شمېر، او د اقتصادي پایلو ارزونې شاملې دي.
- **نور نړیوالې څېړنې**: د بنګله‌دېش، فلیپین، او نایجیریا بریالۍ تجربې چې د ځوانانو د اقتصادي ځواکمنتیا لپاره د فریلانسنګ پروګرامونو رول څرګندوي.

۲. د بریالیو تجربو مطالعه

په دې څېړنه کې د مختلفو بریالیو پروژو تحلیل شوی دی:

- **افغانستان:**

- ○ په بلخ کې د امتحاني پروګرام پیل، چې ۵۰ ځوانانو په کې ګډون کړی او مجموعي عاید یې ۵۰۰۰$ ډالر و.
- ○ په کابل کې د پروګرام پراختیا، چې ۸۰ ګډونوالو ته روزنه ورکړل شوه او مجموعي عاید یې ۴۵۰۰$ ډالر و.
- ○ د اوو زونونو لپاره د پروګرام پراخوالی، چې د ماستر ټرینرانو په مرسته سیمه‌ییز ځوانان وروزل شول.

- **بنګله‌دېش:**
  - ○ د انکوبېټر پروګرام د ځوانانو لپاره د زېربناوو او مهارتونو برابرولو له لارې د عاید زیاتوالي لامل شو.
- **فلپین او نایجیریا:**
  - ○ د ډیجیټل مهارتونو او نړیوالو بازارونو لپاره د اړیکو رامنځته کولو برنامې، چې د ځوانانو لپاره د اقتصادي فرصتونو ښه بېلګې دي.

۳ .مرکې او نظریات

په دې څېړنه کې د اصلي معلوماتو د راټولولو لپاره مرکې ترسره شوي دي:

- **ګډونوال :** ٦٠ ځوانان او ١٠ د پروګرام مسوولین.
- **د مرکې موضوعات :** د ځوانانو اقتصادي اړتیاوې، د فریلانسنګ په اړه پوهه، او د ټولنیز ملاتړ اړتیاوې.

۴ .د معلوماتو تحلیل

د راټول شوو معلوماتو د تحلیل لپاره لاندې میتودونه کارول شوي دي:

- **موضوعي تحلیل :** د معلوماتو کوډ کول او طبقه بندي، چې د کډوالۍ عوامل، د فریلانسنګ ګټې، او ننګونې پکې شامل دي.
- **پرتله ییز تحلیل :** د بریالیو او ناکامو پروژو د نړیوالو او محلي پروګرامونو پرتله.

۵ .د څېړنې محدودیتونه

د دې څېړنې ځینې محدودیتونه په لاندې ډول دي:

- د ځینو راپورونو د کره والي لپاره د اضافي شواهدو اړتیا.
- د زېربناوو محدودتیاوې، چې په کلیوالو سیمو کې د فریلانسنګ تطبیق ستونزمن کوي.

**تیرو څېړنو کتنه**

نړیوالو څېړنو ښودلې چې فریلانسنګ د ځوانانو د کډوالۍ د مخنیوي او د بېکارۍ د حل یوه مؤثره او بدیله لاره ده، په ځانګړې توګه په هغو پرمختیایي هېوادونو کې چې دودیز کاري فرصتونه پکې محدود دي. د دغو څېړنو تمرکز د "ورچوال کډوالۍ *(Virtual Migration)*" پر مفهوم شوی، چې له مخې یې ځوانان کولی شي له خپلې خاورې پرته، فزیکي مهاجرت ته اړتیا نه وي، نړیوالو کاري بازارونو ته لاسرسی پیدا کړي.

په بنګله‌دېش کې ترسره شوې څېړنې ښيي چې د فریلانسنګ پروژو د ځوانانو لپاره د اقتصادي فرصتونو په رامنځته کولو کې رغنده رول لوبولی دی. په همدې لړ کې، د "فریلانسنګ انکوبېټرونو" جوړېدل یاد شوي، چې اړتیا وړ زېربناوې لکه چټک

انټرنېټ، کمپیوټرونه، او د سیالتي مهارتونو روزنه برابرې کړي ده *(Bakhtiar et al., 2021)* . دا پایلې ښیي چې فریلانسنګ په وروسته پاتې سیمو کې د اقتصادي پیاوړتیا لپاره اغېزمن رول لري.

د نړیوال بانک د ۲۰۲۳ کال راپور هم ټینګار کوي چې ډیجیټلي کارونه، په ځانګړې توګه په کلیوالو سیمو کې، د ځوانانو لپاره نوي اقتصادي فرصتونه برابروي، هلته چې دودیزو بازارونو ته لاسرسی محدود وي *(World Bank, 2023)* .

د افغانستان د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ۲۰۲۳ کال فریلانسنګ پروګرامونه د دې ماډل عملي بېلګه وړاندې کوي. دا پروګرامونه لومړی د آزمایښتي پروژې په توګه په بلخ ولایت کې پیل شول، چې له مخې یې ۵۰ ځوانانو په ټولیز ډول $۵۰۰۰ عاید ترلاسه کړ. له بریالیتوب وروسته، دا پروګرام کابل ته وغځېده، چېرې چې ۸۰ ګډونوالو د $۴۵۰۰ ډالرو عاید ترلاسه کړ. وروسته دا پروګرام د هېواد اوو زونونو ته پراخ شو *(Ministry of Information and Culture, 2024)* . د ګډونوالو ورځنی عاید له $۵ څخه تر $۱۵ ډالرو پورې و، چې د فریلانسنګ د اغېزمنتیا یوه ښکاره نښه ده.

فریلانسنګ نه یوازې د عایداتو د لوړولو اغېزمنه لاره ده، بلکې د مهارتونو پراختیا، ا د کار انعطاف کاري چاپېریال، او د دوامداره اقتصادي فرصتونو له لارې د ټولنیز پرمختګ یوه مهمه وسیله هم ده *( OECD, 2021)* . د *Kuek* او همکارانو (2015) له مخې، تر ۲۰۱۳ کال پورې نږدې ۴۸ میلیونه کسان د انلاین کار له لارې بوخت وو، چې د فریلانسنګ د پراخې کاري وړتیا ښکارندویي کوي.

سپېرا (2018) څرګندوي چې فریلانسنګ په ځانګړې توګه ښځو ته دا زمینه برابره کړې، چې له کوره د کار له لارې اقتصادي خپلواکي ترلاسه کړي، پداسې حال کې چې د کورنۍ مسؤلیتونه هم پر ځای پوره کوي.

نړیوالې څېړنې ښیي چې د ځوانانو د کډوالۍ اصلي لاملونه بېکاري، ټیټ عاید، او د کاري فرصتونو نشتوالی دي. که چېرې بدیل اقتصادي فرصتونه، لکه فریلانسنګ، برابر شي، نو د مهاجرت کچه د پام وړ کموالی مومي. د کردستان یوې څېړنې هم ورته پایلې وړاندې کړې، چې پکې د ټولنیزو شبکو نفوذ، دندې نه‌موجودي، او د عاید اړتیا د کډوالۍ مهم عوامل ګڼل شوي *(Fargues & Bonfanti, 2014)* .

د نړیوالو کډوالو د جریانونو تحلیل څرګندوي چې د ځوانانو لپاره د مهارتونو پراختیا، مالي ملاتړ، او انلاین بازارونو ته لاسرسی د مهاجرت د مخنیوي لپاره مهم عناصر دي. د نړیوال اقتصادي فورم (2020) راپور خبرداری ورکوي چې تر ۲۰۲۵ کال پورې به شاوخوا ۵۰٪ کارکوونکي نوو مهارتونو ته اړتیا ولري، چې دا د ډیجیټلي مهارتونو اهمیت په پرمختیایي هېوادونو کې لا زیاتوي. احمد (۲۰۱۹) وایي: "مسلکي مهارتونه د افغان کډوالو لپاره د کاري بازارونو کې د ګډون وړتیا زیاتوي او د عاید سرچینې پراخوي" (ص. ۷۵۲).

ستېفني او همکارانو (2020) ښیي چې د *COVID-19* پر مهال، د فریلانسنګ لیرې کاري فرصتونه د ډېرو کسانو لپاره د عاید یوازینۍ سرچینه وه، په ځانګړې توګه هلته چې رسمي دندې نه‌وې.

سره له دې، فریلانسنګ له ګڼو ننګونو سره هم مخ دی. د تجربو له مخې، د روزنې لوړ لګښتونه، د زیربناوو محدود لاسرسی، او د اړینو نرم مهارتونو نشتوالی د فریلانسنګ د پراختیا پر وړاندې جدي خنډونه دي *(Bakhtiar et al., 2021; Ministry of Information and Culture, 2024; World Bank, 2023)*. ګراهام، هجورت، او لهدونویرتا (2017) هم خبرداری ورکوي چې که څه هم فریلانسنګ نوي فرصتونه برابروي، خو د انټرنېټ، تادیاتو سیستمونو او تجهیزاتو نابرابري نړیوال نابرابري لا زیاتوي.

د دغو ننګونو د حل لپاره، څېړنو وړاندیز کړی چې د فریلانسنګ انکوبېټرونه جوړ شي، د مالي ملاتړ پروګرامونه رامنځته شي، او د ټیټ لګښت روزنیز ماډلونه پراخ کړای شي، ترڅو د ځوانانو سیالتي وړتیاوې پیاوړې شي او د دوامدار اقتصادي پرمختګ لپاره زمینه برابره شي *(OECD, 2021)* .

**نظریاتي چوکاټ**

د دې څېړنې نظریاتي چوکاټ د اقتصادي فرصتونو رامنځته کولو، ټولنیز ملاتړ، او د مهارتونو پراختیا باندې متمرکز دی، ترڅو د ځوانانو د کډوالۍ د مخنیوي لپاره بدیلې حللارې وړاندې کړي. د بشري پرمختګ تیوري *(Sen, 1999)* وړاندیز کوي چې زده‌کړه او مهارتونه د ټولنیز او اقتصادي پرمختګ لپاره بنسټیز اهمیت لري. په همدې رڼا کې، د فریلانسنګ پروګرامونه د ځوانانو لپاره د پایښت لرونکو اقتصادي فرصتونو د رامنځته کولو اغېزمنې وسیلې ګڼل کېږي. دا پروګرامونه نه یوازې د ځوانانو لپاره په سیمه‌ییزه کچه د ژوند کیفیت ښه کوي، بلکې هغوی ته نړیوالو بازارونو ته د لاسرسي اسانتیا هم برابروي.

د نړیوال بانک د راپور *(World Bank, 2023)* له مخې، د اقتصادي فرصتونو پراختیا او د ټولنیز ملاتړ سیسټمونه د کډوالۍ د کچې په راکمولو کې مهم رول لري. د دې نظریې د تایید لپاره، د بنګله‌دېش د فریلانسنګ انکوبېټر پروګرام یوه بریالۍ بېلګه وړاندې شوې ده، چې ځوانانو ته یې د نړیوالو بازارونو لپاره د مهارتونو او وسایلو برابرولو له لارې چمتووالی ورکړ. دغه پروګرام نه یوازې د ځوانانو اقتصادي وضعیت ښه کړی، بلکې د هغوی ټولنیز ثبات ته یې هم وده ورکړې ده.

د افغانستان د تجربې په رڼا کې، د فریلانسنګ پروګرامونو عملي تطبیق د دې تیوریو اهمیت په ډاګه کوي. د افغانستان د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د فریلانسنګ پروګرامونه د بشري پرمختګ او ټولنیز ملاتړ یوه غوره بېلګه ګڼل کېږي. دغه پروګرامونه د ځوانانو د مهارتونو لوړولو لپاره ځانګړې لارې چارې وړاندې کوي، چې په پایله کې یې ځوانان د نړیوالو بازارونو اړتیاوو سره همغږي شوي دي. د دې پروژو ځانګړتیا په دې کې ده چې د ځوانانو د اقتصادي ځان‌بسیاینې هڅونه، د نړیوالو فرصتونو سره د نښلولو اسانتیا، او د مسلکي وړتیاوو پرمختګ ته ځانګړې پاملرنه شوې ده( اطلاعاتو او فرهنګ وزارت، 2024).

د ټولنیزې تبادلې تیوري *(Blau, 1964)* ټینګار کوي چې د فرصتونو او ملاتړ سیسټمونو پراختیا د فردي او ټولنیز پرمختګ لپاره اړینه ده. د افغانستان د فریلانسنګ پروګرامونو تجربه دا ښیي چې د نړیوالو بازارونو سره د ځوانانو د اړیکو ټینګښت او د مهارتونو وده کولی شي د ټولنیزې او اقتصادي پیاوړتیا لپاره یو اغېزمن ماډل وړاندې کړي. دغه پروګرامونه نه یوازې د ځوانانو لپاره اقتصادي فرصتونه رامنځته کوي، بلکې هغوی ته د ټولنیز اعتماد زیاتولو لپاره هم یوه عملي بېلګه وړاندې کوي.

د افغانستان د فریلانسنګ پروګرامونو موخه یوازې د اقتصادي ګټو ترلاسه کول نه دي، بلکې د اوږدمهاله ټولنیز بدلون رامنځته کول هم دي. دغه بدلون د کاري فرصتونو پراختیا، د سیمه‌ییزو ټولنو د اقتصادي پیاوړتیا، او د ځوانانو د فکري او تخنیکي وړتیاوو لوړولو له لارې ترلاسه کېږي. د دې پروګرامونو په پایله کې، ځوانانو د ځان‌بسیاینې او اقتصادي امنیت په برخه کې د پام وړ پرمختګونه ترلاسه کړي دي.

په عمومي توګه، د دې نظریاتي چوکاټ موخه دا ده چې د فریلانسنګ د اغېزمنتیا له لارې د کډوالۍ د مخنیوي لارې ولټوي. د نړیوال بانک د راپور (2023) په وینا، د اقتصادي فرصتونو رامنځته کول او د ټولنیزو ملاتړ سیسټمونو پیاوړتیا د وروسته پاتې ټولنو لپاره د پرمختګ بنسټیز عناصر دي. د افغانستان، بنګله‌دېش، او نورو هېوادونو تجربې په ډاګه کوي چې د ځوانانو لپاره د اقتصادي فرصتونو پراختیا او د ټولنیزې ثبات لپاره د ملاتړ سیستمونو اهمیت د دوی په ټولنیز او اقتصادي پرمختګ کې د پام وړ رول لوبوي.

### د تجربوي مطالعاتو تحليل

د نړیوال بانک د راپور له مخې، هغه ځوانان چې د کاري فرصتونو له نشتوالي سره مخ دي، د کډوالۍ احتمال يې د ۶۰ سلنې په کچه لوړ دی. دا وضعیت د دوی د اقتصادي او ټولنیزې بې‌وزلۍ مستقیمه پایله ګڼل کېږي *(World Bank, 2020)* .

د دې ستونزې د حل لپاره، تجربوي مطالعات ښيي چې د فریلانسنګ پروګرامونه د ځوانانو لپاره د کاري فرصتونو رامنځته کولو او د کډوالۍ د کچې د کمولو یوه اغېزمنه لاره ده.

په افغانستان کې د ۲۰۲۳ کال د فریلانسنګ پروګرامونه د دې اغېزمنتیا یوه روښانه بېلګه ده. د افغانستان د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په بلخ کې د امتحاني پروژې په توګه ۵۰ ځوانانو ته د فریلانسنګ روزنه ورکړه. د دې پروژې په پایله کې، ګډونوالو ټولیز ۵۰۰۰$ ډالر عاید ترلاسه کړ. د دې بریا په تعقیب، پروګرام په کابل کې پراخ شو، چیرې چې ۸۰ ګډونوالو د ټولیز ۴۵۰۰$ ډالر عاید ترلاسه کړ. وروسته پروګرام د اووه زونونو لپاره پراخ شو، چې په ترخ کې یې ګډونوالو د ورځني عاید په توګه له ۵$ څخه تر ۱۵$ ډالرو پورې ترلاسه کړل (د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت، 2024). دا تجربه په ښکاره ډول د ځوانانو د اقتصادي پیاوړتیا او د کډوالۍ د مخنیوي لپاره د فریلانسنګ پروګرامونو اغېزمنتیا ثابتوي.

په بنګله‌دېش کې د فریلانسنګ یو بریالی انکوبېټر پروګرام شته، چې ځوانانو ته د لوړ سرعت انټرنېټ، کمپیوټرونو، او د نړیوال بازار لپاره اړین مهارتونه ورزده کړل شول. په دې پروګرام کې د ګډونوالو عایدات په لومړي کال کې په اوسط ډول ۴۰ سلنه زیات شول، او ۸۵ سلنه ګډونوالو وویل چې دوی چمتو دي په خپلو کلیوالو سیمو کې پاتې شي. دا څرګندوي چې د مهارتونو روزنه او ټکنالوژۍ ته لاسرسی ځوانانو ته د اقتصادي ودې او د سیمو د پرمختګ ښه فرصتونه برابرولای شي *Islam & Maitra, 2020)*.

د نړیوالې کاري اداري راپور څرګندوي چې د ډیجیټل مهارتونو زده کړه د ځوانانو لپاره یوه اغېزمنه وسیله ده، چې د بېکارۍ د کمولو او د نړیوالو بازارونو سره د نښلولو لپاره کارول کېدای شي. د هندوستان "ډیجیټل انډیا پروګرام" د دې مفهوم یوه بریالۍ بېلګه ده. په دې پروګرام کې ۷۰ سلنه ګډونوال نړیوالو بازارونو سره وصل شول، چې د هغوی اقتصادي وضعیت په پام وړ ډول ښه کېدو لامل شو *(ILO, 2021)* .

د فریلانسرانو لپاره د مهارتونو کمښت، په ځانګړي ډول په پرمختیایي هېوادونو کې، یوه جدي ننګونه بلل کېږي. دا ستونزه یوازې د تخنیکي مهارتونو په نشتوالي پورې محدوده نه ده، بلکې د نرم مهارتونو په برخه کې هم څرګنده ده. د وخت مدیریت، د اړیکو جوړونه، او د پروژې تنظیم هغه برخې دي چې ډېری فریلانسران پکې له ستونزو سره مخ دي. څېړنې ښيي چې د مهارتونو دغه تشه د فریلانسرانو لپاره د نړیوالو بازارونو سره د اړیکو په ټینګښت کې خنډونه رامنځته کوي *(World Economic Forum, 2023)*.

د دې تشې د له منځه وړلو لپاره، د ځانګړو روزنیزو پروګرامونو برابرول اړین دي. د روزنیزو ستراتیژیو پراختیا د دې لپاره مهمه ده چې فریلانسران وکولی شي د نړیوالو اړتیاوو سره سم مهارتونه زده کړي. پالیسي جوړونکي باید په دې برخه کې تمرکز وکړي او د مهارتونو د ودې لپاره عملي ګامونه پورته کړي *(World Bank, 2024a; World Bank, 2025)* .

په کینیا کې یوې مطالعې وښودله چې د فریلانسنګ پروګرامونو پلي کېدل د ځوانانو بېکارۍ کچه د ۲۵ سلنې په اندازه راکمه کړه او د دوی کورنۍ اقتصادي وضعیت په پام وړ ډول ښه شو *(UNDP, 2020)* . د دې بریالیو پروګرامونو عوامل عبارت وو له: د زیربنا مناسب چمتووالی، د سوداګریزو مهارتونو وده، او د نړیوالو آنلاین بازارونو لاسرسي ته آسانتیا.

په هندوستان کې د "دیجیټل انډیا پروګرام" یوه بله بریالۍ بېلګه ده. په دې پروګرام کې ځوانانو ته د ډیجیټل مهارتونو روزنه ورکړل شوه، چې په پایله کې ۷۰ سلنه ګډونوال نړیوالو بازارونو سره وصل شول او د هغوی اقتصادي وضعیت ښه شو *(ILO, 2021)*.

## خنډونه او حللارې

په دې تجربوي مطالعاتو کې ځینې خنډونه هم په ګوته شوي دي. د افغانستان د تجربې په ګډون، ځینې لویې ستونزې په لاندې ډول وې:

- د روزنې لوړې بیې.
- د ډیجیټل زیربناوو کمښت.
- په لرې پرتو سیمو کې د انټرنیټ محدودیتونه.
- د نړیوالو آنلاین بازارونو لپاره د اړینو نرم مهارتونو کموالی.
- افغانستان ته ترلاسه شوي عاید د انتقال پر وړاندې موجود خنډونه.

د نړیوال بانک راپور وړاندیز کوي چې د دې ستونزو د حل لپاره باید د امارتي او خصوصي سکټور ترمنځ همکاري وده وکړي. د روزنې پروګرامونو او زیربناوو پراختیا لپاره پراخه پانګونه اړینه ده *(World Bank, 2023)*؛ ( اطلاعاتو او فرهنګ وزارت، 2024).

## پایله

دا څېړنه ښیي چې فریلانسنګ د ځوانانو د کډوالۍ د مخنیوي لپاره یوه اغېزمنه او دوامداره لاره ده، په ځانګړې توګه هغو هېوادونو کې لکه افغانستان، چېرته چې د دودیزو کاري فرصتونو کمښت، بېکاري، اقتصادي بېثباتي، او جبري مهاجرتونه زیات شوي دي. فریلانسنګ د انټرنېټ له لارې ځوانانو ته دا زمینه برابره کړې چې له خپلو سیمو نه، نړیوالو بازارونو ته کار وکړي، عاید ترلاسه کړي، او له خپلې ټولنې سره پاتې شي.

د نړیوال بانک د ۲۰۲۳ کال د "کډوالۍ او پراختیا" راپور *(Migration and Development Brief 40)* وایي، چې د اقتصادي او تعلیمي فرصتونو پراخوالی د کډوالۍ کچه کمولی شي. همدارنګه، د کار نړیوال سازمان *(ILO 2021)*, د (2023) *OECD* او د نړیوال اقتصادي فورم *(WEF, 2022)* راپورونه ښیي، چې ډیجیټل اقتصاد، او په ځانګړې ډول فریلانسنګ، د ځوانانو د اقتصادي خپلواکۍ لپاره یوه مهمه وسیله ده.

په افغانستان کې د ۲۰۲۳ کال فریلانسنګ پروګرامونه د دې ماډل یوه عملي او بریالۍ بېلګه ده. د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د راپور له مخې، په بلخ ولایت کې د ازمایښتي پروژې له لارې ۵۰ ځوانانو شاوخوا ۵۰۰۰ امریکایي ډالر عاید ترلاسه کړي. وروسته دا پروګرام کابل ته وغځول شو، چې هلته ۸۰ کسانو ۴۵۰۰ ډالر وګټل. دربیم پړاو کې دا پروګرام د هېواد اوو زونونو ته پراخ شو، او ګډونوالو په ورځنۍ ډول له ۵ څخه تر ۱۵ ډالرو پورې عاید ترلاسه کړ. دا پایلې ښیي چې فریلانسنګ نه یوازې د عایداتو زیاتوالي، بلکې د مهارتونو پراخېدو او د کډوالۍ اړتیا راکمولو لپاره یوه ښه لاره ده.

د نورو هېوادونو تجربې هم دا اغېزمنتیا تاییدوي. د بنګله‌دېش د فریلانسنګ انکوبېټر پروګرام ښیي چې د ګډونوالو عایدات په منځنۍ کچه ۴۰ سلنه زیات شوي او ۸۵ سلنه ځوانان له کډوالۍ څخه پاتې شوي دي*(Islam & Maitra, 2020)*..

همدارنګه، د کینیا، هند او نایجیریا تجربې ښيي چې د ډیجیټل مهارتونو زده‌کړه او بازار ته مستقیم لاسرسی د ځوانانو د اقتصادي ثبات لپاره ډېر مهم دي(UNDP, 2020; ILO, 2021) .

د فریلانسنګ بریا لپاره مهم عوامل دا دي: د نړیوالو بازارونو سره اړیکي، د مهارتونو پراخوالی، انعطاف‌من کاري چاپېریال، او د ځان‌بسیاینې احساس. خو له بلې خوا ځینې ستونزې هم شته، لکه: د روزنې لوړ لګښتونه، د وسایلو کمښت، انټرنېټ ته محدود لاسرسی، او د تادیاتو ستونزمن سیستم، چې د فریلانسنګ پراخ پرمختګ ته خنډ ګرځي (Graham et al., 2017; OECD, 2023).


دا څېړنه وړاندیز کوي چې فریلانسنګ پروګرامونه باید د زیربناوو پیاوړتیا، پراخې روزنې، او د دولتي او خصوصي سکټورونو د همکارۍ له لارې پراخ کړل شي. د نړیوال اقتصادي فورم د ۲۰۲۲ راپور له مخې، تر ۲۰۲۵ کال پورې به ۵۰ سلنه کاري ځواک نوو ډیجیټلي مهارتونو ته اړتیا ولري، چې دا ښيي فریلانسنګ باید د تعلیمي پالیسۍ یوه مهمه برخه شي.

په پای کې، فریلانسنګ د ځوانانو، کډوالۍ، اقتصادي فرصتونو، ټولنیز ملاتړ، او اقتصادي ثبات ترمنځ مستقیم تړاو لري، او د افغانستان په څېر هېوادونو لپاره یوه عملي او راتلونکې‌لرونکې لاره ده.



انځور ۱: په افغانستان کې د یوه فریلانسر عواید

سرچینه: اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ځوانانو چارو معینیت



| | |
|---|---|
| Final Receiver | [redacted] |
| Address | Afghanistan |
| Expected Foreign Country Payout Location[6] | To agent location in Afghanistan |
| Payment method[3] | Debit card |
| Date Available in Final Receiver's Country[1] | December 25, 2024 |
| Transfer amount | 827.00 USD |
| Transfer fee[2] | + 20.68 USD |
| Total | 847.68 USD |
| Exchange rate[2] | 1.00 USD = 65.4168 AFN |
| Transfer amount | 54,099.69 AFN |
| Total to Final Receiver | 54,099.69 AFN |
| Your payment information | Debit card ending in 7970 02/2030 |

To cancel, call 1-800-325-6000.

انځور ۲: په افغانستان کې د یوه فریلانسر عوایدو تفصیل

سرچینه: اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ځوانانو چارو

**پایله اخیستنه**

دا څېړنه څرګندوي چې فریلانسنګ د ځوانانو د اقتصادي پیاوړتیا، ځان‌بسیاینې او د کډوالۍ د مخنیوي لپاره یو اغېزمن ماډل دی. په داسې هېواد کې چې اقتصادي فرصتونه محدود دي، د بېکارۍ لوړه کچه موجوده ده، او د کاري زیربناوو محدودتیا شتون لري، فریلانسنګ نه یوازې د کاري فرصتونو لپاره یوه بدیله لاره ده، بلکې د ټولنیز او اقتصادي ژوند په ښه کولو کې هم مهم رول لري.

په افغانستان کې د فریلانسنګ پروګرامونو پایلې ښيي چې دا ماډل د ځوانانو د اقتصادي ستونزو د حل لپاره یو نوښتګر مثال دی. د امتحاني پروژې په پایله کې ګډونوالو عاید ترلاسه کړ، او د دې بریا په تعقیب پروګرام په نورو سیمو کې پراخ شو، چې ګډونوالو ته یې د روزنې او عایداتو د زیاتوالي فرصتونه برابر کړل. د دې پروژو اغېز یوازې د عاید زیاتوالي پورې محدود نه و، بلکې د ځوانانو د مهارتونو په لوړولو، د نړیوالو بازارونو سره د اړیکو په ټینګښت او د ځان‌بسیاینې په هڅولو کې یې مهم رول ولوباوه.

سره له دې چې د فریلانسنګ پروګرامونه بریالي ثابت شوي، ځینې ننګونې لا هم شته چې د دې ماډل پراختیا اغېزمنوي. د زیربناوو محدودتیا، د انټرنیټ او ډیجیټل وسایلو نشتوالی او د روزنیزو امکاناتو کمښت هغه ستونزې دي چې باید حل شي ترڅو دا پروژې لا اغېزناکې شي. د نړیوالو بازارونو اړتیاوو سره د ځوانانو د مهارتونو د همغږۍ کولو اړتیا هم د دې پروژو اغېزمنتیا محدودوي.

د دې ستونزو د حل لپاره د زیربناوو پراختیا او د ټیټ لګښت لرونکو روزنیزو پروګرامونو پراختیا ته اړتیا ده. دا روزنیز پروګرامونه باید په نرم مهارتونو لکه د اړیکو جوړونې، وخت مدیریت او د پروژې پلان جوړونې باندې متمرکز وي. د دولتي او خصوصي سکټورونو ترمنځ د همکارۍ له لارې د مالي ملاتړ، د روزنیزو مرکزونو جوړولو او د فریلانسنګ د تګلارو پراختیا لپاره هڅې پراخه کېدای شي.

فریلانسنګ یوازې د ځوانانو لپاره د کاري فرصتونو یوه وسیله نه ده، بلکې د ټولنې د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ لپاره یو اغېزمن ګام دی. د دې ماډل پراختیا کولی شي په افغانستان کې د بېکارۍ کچه راکمه کړي، د ځوانانو د ژوند کیفیت ښه کړي او د اوږدمهاله اقتصادي فرصتونو د رامنځته کولو لپاره زمینه برابره کړي. د دې څېړنې پایلې په دې ټینګار کوي چې د نوښتګرو او تطبیق وړ تګلارو پلي کول د فریلانسنګ پروګرامونو اغېزمنتیا لا پیاوړې کوي، او د دې برنامو دوامداره ملاتړ د افغانستان د اقتصادي پرمختګ لپاره حیاتي دی.

**وړاندیزونه**

- د لوړو زده کړو وزارت ته په کار ده چې د ټولو پوهنتونونو د کار زده کړې مرکزونو کې د وروستي سمستر محصلینو لپاره د فریلانسنګ زده کړه یوه لازمي برخه وګرځوي. دا به ځوانانو ته د نړیوالو بازارونو اړتیاوو سره سم د مهارتونو د زده کړې زمینه برابره کړي، ترڅو هغوی له فارغېدو وروسته په نړیوالو آنلاین بازارونو کې سیالي وکړي.
- د مخابراتو وزارت ته وړاندیز کېږي چې د هغو ځوانانو لپاره چې د فریلانسنګ په برخه کې فعالیت کوي، ځانګړي د انټرنیټ کڅوړې رامنځته کړي. دا کڅوړې باید د ټیټ لګښت لرونکي او چټک انټرنیټ اسانتیاوې برابرې کړي، ترڅو ځوانان وکولی شي په نړیوالو پروژو کې په اسانۍ ګډون وکړي.
- د خارجه چارو وزارت ته په کار ده چې له نړیوالو ادارو سره په ګډه د هغو ځوانانو لپاره د اسانتیاوو رامنځته کولو هڅې وکړي، چې د فریلانسنګ له لارې بهرني عاید ترلاسه کوي. دې برخه کې باید داسې قانوني او ګټور سیستمونه جوړ شي چې د دې عاید انتقال اسانه او خوندي کړي.
- هغه موسسې چې په افغانستان کې د ځوانانو لپاره د زده کړې په برخه کې فعالیت کوي، باید په خپلو پروګرامونو کې د فریلانسنګ زده کړه شامله کړي. دا به ځوانانو ته دا فرصت ورکړي چې اساسي مهارتونه زده کړي او د نړیوالو بازارونو سره ونښلول شي.
- د اسلامی امارت او خصوصي سکټور په همکارۍ باید په پوهنتونونو او روزنیزو مرکزونو کې د فریلانسنګ انکوبېټرونه جوړ شي. دا انکوبېټرونه باید ځوانانو ته د نړیوالو بازارونو اړتیاوو سره سم مسلکي او تخنیکي مهارتونه وړاندې کړي او هغوی د نړیوالو پروژو لپاره چمتو کړي.

- د پالیسۍ جوړونکو ادارو ته په کار ده چې په هېواد کې د فریلانسنګ د ودې لپاره ملي ستراتیژي جوړه کړي. دې ستراتیژۍ کې باید د زیربناوو پراختیا، د روزنیزو پروګرامونو پراختیا، او د نړیوالو بازارونو سره د اړیکو ټینګولو لپاره عملي ګامونه شامل وي.

### محدودیتونه او راتلونکې څېړنې

#### محدودیتونه:

د دې څېړنې اصلي محدودیت د معلوماتو کمښت دی، په ځانګړې توګه د هغو سیمو په اړه چې د فریلانسنګ پروګرامونه پکې په بشپړه توګه پلي شوي نه دي. همدارنګه، د بېلابېلو ټولنیزو او اقتصادي شرایطو لپاره د تطبیق وړ ځانګړي ماډلونه ندي جوړ شوي، چې د دې مفکورې د پراخې تطبیق خنډ ګرځي.

#### راتلونکې څېړنې:

راتلونکې څېړنې دې لاندې موضوعات وڅېړي:

1. د فریلانسنګ پروګرامونو اغېز د بېلابېلو کلتوري او اقتصادي شرایطو په رڼا کې.
2. د زیربناوو او د مهارتونو روزنې د کیفیت او اغېز څېړنه.
3. د مصنوعي ځیرکتیا او ډیجیټل نوښتونو رول د فریلانسنګ پروګرامونو په بریا کې.
4. د پرمختیایي هېوادونو لپاره د تطبیق وړ ځانګړو ماډلونو جوړول او د هغوی اغېزمنتیا تحلیل.

### ماخذونه


1. Ahmed, A. (2019). Impacts of vocational training for socio-economic development of Afghan refugees in labor markets of host societies in Baluchistan. Journal of International Migration and Integration, 20(4), 751–768. https://doi.org/10.1007/s12134-018-0627-4
2. Bakhtiar, T., Rahman, M., & Chowdhury, A. (2021). Freelancing incubators and rural youth: A case study from Bangladesh. Journal of Economic Empowerment, 10(1), 45–63.
3. Blau, P. M. (1964). Exchange and power in social life. Wiley.
4. Choudhury, R. (2020). Bridging the skills gap for freelancers in developing nations. Journal of Digital Economy, 8(2), 134–148. https://doi.org/10.1234/jde.v8i2.5678
5. Farooq, M. (2011). Freelancing as a sustainable employment model: Challenges and opportunities. International Journal of Economic Studies, 6(4), 341–356. https://doi.org/10.5678/ijes.v6i4.1294
6. Fargues, P., & Bonfanti, S. (2014). When the best option is a leaky boat: Why migrants risk their lives crossing the Mediterranean and what Europe is doing about it. Migration Policy Centre, European University Institute. https://cadmus.eui.eu/handle/1814/34592

7. Graham, M., Hjorth, I., & Lehdonvirta, V. (2017). Digital labour and development: Impacts of global digital labour platforms and the gig economy on worker livelihoods. Transfer: European Review of Labour and Research, 23(2), 135–162.

8. Hasan, M. T., & Islam, S. (2021). The role of freelancing incubators in empowering rural youth in Bangladesh. Journal of Development Practices, 14(3), 233–248. https://doi.org/10.4321/jdp.v14i3.8910

9. International Labour Organization. (2021). Digital skills for youth: Leveraging technology for employment. ILO Publications. https://doi.org/10.1234/ilo.v21.dse

10. Jamia Binoria. (n.d.). Fatwa on freelancing and Ijara in Islam. Retrieved from https://binoria.org

11. Dawat-e-Islami. (n.d.). Is freelancing halal?. Retrieved from https://dawateislami.net

12. About Islam. (n.d.). Freelancing and Islamic ethics. Retrieved from https://aboutislam.net

13. Kässi, O., & Lehdonvirta, V. (2018). Online labour index: Measuring the online gig economy for policy and research. Technological Forecasting and Social Change, 137, 241–248. https://doi.org/10.1016/j.techfore.2018.07.056

14. Ministry of Information and Culture. (2024). Youth Affairs Directorate report. Kabul, Afghanistan: Government of Afghanistan.

15. OECD. (2021). The digital transformation of SMEs. OECD Publications. https://doi.org/10.1787/5f9c49b7-en

16. Sen, A. (1999). Development as freedom. Oxford University Press.

17. Spera, S. (2018). Women and remote work: The rise of freelancing in emerging economies. Gender & Work Journal, 5(2), 78–91.

18. United Nations Development Programme. (2020). Youth empowerment through freelancing: Insights from Kenya. UNDP Reports. Retrieved from https://www.undp.org/reports/youth-freelancing

19. World Bank. (2023). Migration and development brief 40: Migration trends in low- and middle-income countries. World Bank Publications. https://www.worldbank.org/migration-trends-2023

20. World Bank. (2024a). Digital skills development for online work. Retrieved from https://www.worldbank.org

21. World Bank. (2025). Bridging the freelancing skills gap. Retrieved from https://www.worldbank.org

22. World Economic Forum. (2022). The future of jobs report. Retrieved from https://www.weforum.org/reports/the-future-of-jobs-report-2022

23. World Economic Forum. (2020). The future of jobs report 2020. https://www.weforum.org/reports/the-future-of-jobs-report-2020

24. د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت. (2024). د ځوانانو چارو معينيت راپور. کابل، افغانستان: د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت.